
# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# عیسیٰ ړوند له شفا ورکوی




لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries



مددگار: Bible for Children
www.M1914.org





©2025 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.






برتلمائی یو ړوند وو، چې د یریحو په لار به خیر غوښتلو د پاره ناست وو. چې څوک مهربانه خلق به د هغهٔ خوا نه تیریدل نو څهٔ سیکې یا د خوراک د پاره به یې څهٔ ورکول. برتلمائی کار نهٔ شو کولے ځکه چې هغه ړوند وو. هغهٔ صرف خیر غوښتلے شو.






یوه ورځ په لاره ډېره ګڼه وه. برتلمائی د خلقو د تلو آوازونه
واورې. څۀ ناآشنا غوندې کار وو. ډېر زر هغه ړوند سړی ته
معلومه شی چې څۀ چل دے. د ناصرت عیسیٰ په ښار کښې
وو. خلق د عیسیٰ مسیح لیدو او اورېدو د پاره راجمع کېدل.
3



برتلمائی په چغو ووئیل، اے عیسیٰ، د داؤد زویه په ما رحم
وکړه. هغه ولې دا سوچ کوی چې عیسیٰ مسیح د هغۀ مدد
کولے شی؟ بهرحال، هغۀ د نورو خلقو
په حقله اورېدلی وو چا له چې
عیسیٰ مسیح شفا ورکړې وه.
څۀ ګونګیان وو، څۀ کاڼۀ وو،
او څۀ معذوره وو. ځینې لکه د
هغۀ په شان ړاندۀ وو. برتلمائی
بیا بیا وئیل چې د داؤد زویه په
ما رحم وکړه. د هغۀ په
آواز کښې یو اُمید وو.
4



د برتلمائی په یوه خبره
یقین وو. کۀ هغۀ ته
اوس مدد ملاؤ نۀ شو
نو بیا بله ورته کله هم
بله موقعه ملاو نۀ شی.
کېدے شی چې عیسیٰ
مسیح بیا هیڅ کله هم په
دغه لار تېر نۀ شی.
5



برتلمائی عیسیٰ مسیح
خواته ځان ورسوی.
خو خلق د لارې نه
نۀ لرې کېدل. هغوئ
هغۀ ته ووئیل چې
چپ شه.
6



خو برتلمائی نۀ چپ کېدو. هغۀ چغې
وهلې. ناڅاپه عیسیٰ مسیح ودرېدو.
واورې! حکم وکړې چې هغه ړوندے
زما خواته راولئ! خلق برتلمائی ته
ووائی، ډاډه اوسه. راپاځه، هغه
دې غواړی.
7



هغه خپله چوغه یو طرف ته وغورزوی. برتلمائی راپاڅی
او عیسیٰ مسیح خواته لاړ شی.
8



عیسیٰ مسیح ترې تپوس وکړی، تهٔ زما نه څهٔ غواړې چې
زهٔ یې ستا د پاره وکړم؟ تاسو دې د پاره څهٔ جواب ورکولے
شئ؟ آیا تاسو به ترې نه د نوو جامو د پاره ښې ډېرې پیسې
غواړئ؟ آیا برتلمائی هم دا غوښتل؟
9


نه، ړوند برتلمائی عیسیٰ مسیح سرهٔ زر یا ښې
جامې نهٔ غواړی. هغه ورته ووائی
چې تهٔ پوهیږې چې ما ته د
څهٔ ضرورت
دے.
10


اے مالکه، زهٔ بینا کېدل غواړم. برتلمائی غوښتل چې بینا
شی! هغهٔ د خدائ پاک د تخلیق ښکلا، مارغان او ونې
بوټې لېدل غوښتل. هغهٔ غوښتل چې د خپل ځان په خپله
خیال وساتی او خېر غوښتل پریږدی.
11


بیا عیسیٰ برتلمائی ته ووائی، ځه، تهٔ خپل ایمان روغ کړې.
12


سمدستی هغه بینا شی او
عیسیٰ مسیح پسې روان
شی. او هغهٔ داسې
ووئیل، خدائ
پاک لوئ قدرت
واله دے چا
چې ما له شفا
راکړه! دا د
برتلمائی د پاره ډېر
د خوشحالۍ وخت وو.
13


ټول خلق چې دا ووینی
نو د خدائ پاک ثنا صفت
وکړی. یو ځل بیا هغوئ
د خدائ پاک د زوئ
عیسیٰ لوئ قدرت ولېدو،
چې یو غریب ړوند خیر
مار یې بینا کړو.
14

ختم شو

50

60

16

عیسیٰ ړوند له شفا ورکوی

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

مرقوس ۱۰، لوقا ۱۸، یوحنا ۹

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"

زبور 130:119

15

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه گنا وایې. د گنا مزدوی مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو گناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوگنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ تهووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما گناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

17